Social Sceince AcademicJournal
لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# په اوسنۍ زمانه کې د مور او پلار د ازارولو لاملونه

پوهنیار محمد الحنفي*[۱]
فقه و قانون څانګه،شریعاتو پوهنځی ، نیمروز د لوړو زده کړو مؤسسه
دمسؤل آیمیل آدرس. mohmmadalhanafi97@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰۷/۰۷ منل سوې:۱۴۰۳/۰۸/۱۶ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-1-13 مخونه (۱۵۵-۱۷۲)

## لنډیز

یاده څېړنه د اولادونو له لوري د مور او پلار د ازارولو لاملونه په ګوته کوي، دي څېړنه کې هغه لاملونه په تفصیل سره څېړل سوي دي چې د اولاد له لوري د مور او پلار د ځورولو سبب ګرځي، له یادي څېړنې څخه مو موخه د الله جل جلاله رضا او د کورني نظام ټینګښت او د اولاد او والدینو ترمنځ د خوشاله ژوند تېرول دي، د څېړنې ډول کتابتوني دی، کړنلاره یې تحلیلي ـ توضیحي ده، د څېړنې پایلي ښيي چې د مور او پلار د ازارولو مهم لاملونه دادي: د والدینو سره د نیکۍ کولو د ثوابونو څخه ناخبرتیا، د والدینو د ځورولو د ناوړه عواقبو څخه ناخبرتیا، هغه فلمونه او سریالونه کتل چې د اسلامي تعلیم سره په ټکر کې وي، د بدو ملګرو سره ملګرتیا، شخصیت ښودنه، بده تربیه، د والدینو د خپلو والدینو سره بد چلند، راحت خوښونه، د اولادونو ترمنځ توپیر کول، د والدینو ترمنځ مشکلات، د څېړنې تر لوستلو وروسته به لوستونکي یاد لاملونه په تفصیل سره وپیژني.

**کلیدي کلیمې:** مور ، پلار، ازار، لاملونه، عاق، حکم.

## سریزه

الحمد لله رب العلمین، والصلوة والسلام علي سید المرسلین، وعلي اله و اصحابه الطیبین الطاهرین.

و بعد: د الله جل جلاله او رسول الله صلي الله علیه وسلم د حقوقو څخه وروسته تر ټولو ستر حق پر انسانانو حق د مور او پلار دی، الله جل جلاله په خپل کلام کې په متعددو ځایونو کې دغه حق ذکر کړی دی، د رسول الله ﷺ په بې شمیره احادیثو کې دغه حق بیان سوی دی، دومره ستر حق دی چې الله جل جلاله د مخکینیو امتونو څخه ددغه حق د رعایت لپاره وعدي اخیستي وي،

دا معلومه خبره ده کوم امر چې په قران مجید کې ډیر تکراریږي دا د هغه امر پر اهمیت دلالت کوي، دا هم معلومه خبره ده کوم امر چې تر یو لوی مهم امر پوري مقترن او مبنتي وي، دا هم د دغه مقترن امر پر اهمیت دلالت کوي، الله جل جلاله په خپل کلام کې د مور او پلار حقوق د خپل عبادت وروسته ذکر کړي دي او د مور او پلار پر حقوقو یې په متعددو ځایونو کې تأکید کړی دی،

همداسي د رسول الله ﷺ څخه په متعددو ځایونو کې د مور او پلار د حقوقو پر نه ورکولو او د هغوی پر ازارولو سخت وعیدونه ذکر سوي دي، ځیني وختونه یو څوک الله جل جلاله ته ستر عبادت کوي، لکه لمونځ، روژه، زکات ورکول، حج کول او نفلي عبادت کول؛ خو د مور او پلار ازار د دغو عباداتو ثواب له منځه وړي او انسان معنوي مفلسه پاته کیږي، نو د مور او پلار د حقوقو تر پښو لاندي کولو او د ازارولو د مخنیوي لپاره مو دا څېړنه تر سره کړه،

د مور او پلار د ازارولو د لاملونو په اړه مخکي هم څېړنې سوې دي، لکه: د (محمد ابن ابراهیم بن احمد) څېړنه په عربي ژبه (عقوق الوالدین: أسبابه ـ مظاهره ـ سبل العلاج) چي د سعودي د حج او أوقافو وزارت له لوري نشر سوې ده، د تاریخ په اړه یې هیڅ ندې لیکل سوې

همداسي د (أبو الحسن علي بن أحمد الرازمي) څېړنه په عربي ژبه کي ( الأربعون في بر الوالدين والتحذير من عقوقهما. الطبعة الأولي ۱۴۳۱هـ ق).

او همداسي د (دلؤي سلمان راضي) څېړنه د (عقوق الوالدين في الشعر القديم قراءة في مكونات الظاهرة. الطبعة (۲۰۲۱م).

خو په دغه څېړنو کي ځینو یې د مور او پلار د ازار لاملونه په لنډه توګه را اخیستي وه او پر هغو یې د آیاتونو یا احادیثو څخه دلیل نه و راوړی، ځینو یې بیا هغه لاملونه نه وو په ګوته کړې، چي د نوو آلاتو د ناوړه استعمال څخه پیداکیږي، لکه تلویزیون، فلمونه او سریالونه.

او ځینو یې د والدینو ازارونه د عربي ژبي د اشعارو څخه را اخیستې وه او ځینو بیا تحلیل نه درلودی فقط یې نصوص راوړې وه،

د دې څېړنې ـځانګړنه دا ده، چي د ازار سببونه په تفصیل پکښې څېړل سوي دي او د ځان سره د نصوصو او فقهي عبارتونو تحلیل لري او ډیر تمرکز پر هغه اسبابو سوی دی، چي اوسنۍ زمانه کي مسلمانان ورسره لاس او ګریوان دي او هغه لاملونه چي د نوو آلاتو د استعمال په سبب پیدا سوي دي.

## کړنلاره

دا څېړنه کتابتوني ده او د څېړنې کړنلاره توضیحي ـ تحلیلي ده، د معلوماتو د راټولو لپاره مي کتابتونونو ته مراجعه وکړه او د موادو له راټولو وروسته مي موضوعات د تحلیلي- توضیحي میتود په مرسته تحلیل او وسپړل.

## د څېړنې موندني

### د مور او پلار د ازارولو (عاقولو) مفهوم او معنی

عقوق له عق څخه اخيستل سوی دی، عق په لغت کي خيرلو او پريکولو ته وايي، د عقوق په اصطلاح کي د علماؤ تر منځ بېلابېل قولونه سته، علامه عيني رحمه الله د علامه تقي الدين سبکي رحمه الله قول رانقل کړی دی، هغه وايي: د عقوق (ازارولو) لپاره دا قاعده ده، مور او پلار ته چي هر ډول تکليف ورکول سي، که هغه لږ وي يا ډېر وي. که مور او پلار منع ورڅخه کړې وي او که يې نه وي کړې، که مور او پلار امر ور باندي کړی وي او که يې ورڅخه منع کړې وي، په دې شرط چي ګناه نه وي د عقوق (ازارولو) څخه دي.

**لومړی لامل**

الله جل جلاله مور او پلار د انسان لپاره يو نعمت پيدا کړی دی، مور او پلار د انسان لپاره د لوړو مقاماتو د لاس ته راوړلو ذريعه ده، خو متأسفانه چي نن سبا، زيات خلګ د هغه اجرونو او ثوابونو څخه جاهله او ناخبره دي، چي الله جل جلاله د مور او پلار سره په نيکی کولو کي ايښي دي، دوی په دې نه پوهيږي چي الله جل جلاله د مور او پلار سره په نيکی کولو موږ ته د دنيا او آخرت لوړې مرتبې را نصيب کوي، د هغه فضائلو څخه ناخبره دي، چي په کتاب الله او سنت رسول الله کي د مور او پلار په هکله راغلي دي، د هغو څخه يو څو يې د ګټې اخيستنې لپاره ذکر کوو:

**دمور او پلار سره د نيکی ترغيب**

الله جل جلاله په خپل کتاب کي د مور او پلار سره د نيکی کولو زيات ترغيب او تشويق ورکړی دی، تر داسي اندازې چي الله جل جلاله د مور او پلار سره د نيکی کولو امر له خپل عبادت سره يوځای ذکر کړی دی.

الله متعال جل جلاله فرمايلي دي: ((وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا))( النساء، ۳۶).

ژباړه: تاسي د الله جل جلاله عبادت وکړئ، او د الله جل جلاله سره هيڅ شی شريک مه جوړوئ او د مور او پلار سره نيکي وکړئ.

بل آيت کي الله جل جلاله فرمايي: ((وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا)) (الاسراء، ۲۳).

ژباړه: او ستا رب فيصله کړې ده، چي تاسي به له هغه پرته د بل چا عبادت نه کوئ او د مور او پلار سره به نيکي کوئ!

او بل آيت کي الله جل جلاله فرمايي: ((قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا)) (الانعام، ۱۵۱).

ژباړه: ورته ووایه، چې تاسې راسئ چې زه هغه څه درته ووایم چې ستاسې رب پر تاسې حرام کړې دي، هغه دادی چې تاسې د الله جل جلاله سره هیڅ شی شریک مه نیسئ او د مور او پلار سره نیکي کوی.

او الله جل جلاله د ځیني انبیاؤ په مدحه او صفت کې یو صفت دا راوړی دی، چې د والدینو سره یې نیک چلند کوي، لکه الله جل جلاله چې فرمایي: ((وَبَرّاً بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُنْ جَبَّاراً عَصِيًّا)) (مریم، ۱۴).

علامه سمرقندي رحمه الله د لوړ ذکر سوې آیت په تفسیر کې لیکلې دي: وَبَرّاً بِوَالِدَيْهِ، یعني: د مور ا وپلار فرمانبرداري یې کول او د هغوی نافرماني یې نه کوله، وَلَمْ يَكُنْ جَبَّاراً، یعني: جګړه کوونکی نه وو، جبار هغه چاته ویل کیږي، چې د خشم او درد په وجه جنګ کوي، او هغه چاته ویل کیږي چې د غضب او خشم په وجه وهل کوي(تفسیر السمرقندي، ۲ ص ۳۷۱).

حدیث شریف کې راغلې دي: عن أبي هُرَيرةَ رضي اللهُ عنه قالَ: جاءَ رَجُلٌ إلى رسولِ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - فَقَالَ: يَا رَسولَ اللهِ! مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قالَ: "أُمُّكَ"، قالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قالَ: "أُمُّكَ"، قالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قالَ: "أُمُّكَ"، قالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قالَ: "ثُمَّ أَبُوكَ"( صحیح مسلم، ج ۴ ص ۱۹۷۴).

ژباړه: حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي: رسول الله صلي الله علیه وسلم ته یو سړی راغی بیایې وویل اې د الله رسوله، په ما تر ټولو ستر حقداره څوک دی؟ رسول الله ﷺ و فرمایل: ستا مور، بیایې وویل: بیا څوک؟ رسول الله ﷺ بیا ځواب ورکړ ستا مور، هغه سړي بیا وویل بیا څوک؟ رسول الله ﷺ ځواب ورکړ، ستا مور، هغه سړي بیا وویل بیا څوک؟ رسول الله ﷺ وویل: بیا ستا پلار.

**د مور او پلار سره نیکي کول واجب دي که څه هم مور او پلار مشرکان وي**

مور او پلار هغه څوک دي چې د دوی په ذریعه انسان د عدم څخه وجود ته راځي، نو په هر حال کې ورته ځانګړې توجه کول په کار ده، تر داسې اندازې که مور او پلار کافران وي، بیا هم د هغوی توهین کول او هغوی ته ازار او تکلیف ورکول جواز نه لري، بلکې د کفر په حالت کې به یې هم د والدینو په توګه په دنیا کې قدر او عزت کیږي، که هغوی انسان مجبوره کړي، چې کافر سو، نو دلته به یې خبره نه منل کیږي، نور باید د نیکۍ چلند ورسره وسي.

الله جل جلاله قرآن مجید کې فرمایي: ((وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا)) (لقمان، ۱۵).

ژباړه: که مور او پلار پر تا کوشش وکړي چې ته زما سره شریک ونیسه هغه څه چې ته پري علم نه لري، نو خبره یې مه منه او په دنیا کې نیکه ملګرتیا ورسره وکړه.

فقهاؤ ليکلي دي: ((لو کانا کافرين يجب برهما والاحسان اليهما ما لم يأمرا ابنهما بشرك او ارتکاب معصية)) (الموسوعة الفقهية، ج ٨ ص ٦٦).

ژباړه: که چيري مور او پلار کافران وي بيا هم نيکي او ښه چلند ورسره کول واجب دي، تر څو چي دوی خپل زوی په شرك او کفر او يا هم د يو ګناه په مرتکب کيدلو امر نکړي.

علامه شامي رحمه الله ليکلي دي: ((لو کان معسرا محتاجا الي خدمته فرضت عليه ولو کافرا)) (شامي، ج ۴ ص ۱۲۴).

ژباړه: که چيري پلار ښوزلی او اړ وي پر اولاد يې خدمت کول واجب دي، که څه هم پلار کافر وي.

د لوړو ذکر سوو اياتونو او عبارتونو پايله داده چي الله جل جلاله انسانان د مور او پلار سره په نيک چلند او د هغوی په اطاعت امر کړې دي که څه هم مور او پلار مشرکان وي، خو اطاعت يې په هغو کارونو کي لازم دی چي د شريعت سره په ټکر کي نوي، که د شريعت خلاف امر وکړي اطاعت کول يې ناروا دی.

## د مور او پلار سره نيکي کول د ګناهونو کفاره ګرځي

د مور او پلار سره نيکي کول بهترين عبادت دی، ځيني داسي عبادات سته چي د هغو د کولو په سبب د انسان ګناهونه رژيږي او ختميږي، يو د هغو عباداتو څخه د مور او پلار سره نيک چلند کول دي،

حديث شريف کي راغلي دي: ((عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ الله، إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا فَهَلْ لِي تَوْبَةٌ؟ قَالَ: هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟ قَالَ: لاَ، قَالَ: هَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَبِرَّهَا)). (سنن الترمذي، ج٣ ص ٣٧٨).

ژباړه: د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی، بيشکه چي يو سړی نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله ﷺ زه په يوه غټه ګناه متبلا يم ايا زما لپاره توبه سته، رسول الله ﷺ ورته وويل: ايا ته مور لري؟ هغه وويل: نه، بيا رسول الله ﷺ ورته وويل: ايا خاله لري؟ هغه وويل: هو، نو رسول الله ﷺ ورته وويل: نو د خاله سره نيکي کوه.

## د مور او پلار سره نيکي کول د برکت بهترينه نسخه ده

نن سبا، موږ وينو چي بهترين کارونه او کسبونه لرو، بهترين معاشات او تنخواه ګاني راته حواله دي؛ خو په رزق کي مو برکت نسته، که کوم مسلمان غواړي، چي ژوند يې له هر اړخه له برکته ډکه سي، نو د مور او پلار سره نيک چلند کول يې بهترينه نسخه ده.

حديث شريف کي راغلي دي

((قال رسول الله ﷺ من أحب أن يمد له في عمره، وأن يزاد له في رزقه، فليبر والديه، وليصل رحمه)) (مسند احمد، ج ۲۱ ص ۹۳).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: که څوک غواړي چي په عمر کي يې زياتوالی او په رزق کي ډيروالی راسي، نو له خپل مور او پلار سره دي نيک چلند وکړي، او صله رحمي دي کوي.

د عمر له زياتېدو څخه مطلب دا دی، چي الله جل جلاله به د انسان په عمر کي برکت واچوي، هغه نيک کارونه، چي يو چا د ډير عمر په مصرفولو ترسره کولای نه سوه، دغه انسان به يې په کم وخت کي تر سره کړي.

**د مور او پلار په وفات سره د دوی سره نيکي کول نه ختميږي**

کله چي مور او پلار وفات سي دا په دي معنی نه دی، چي نور د مور او پلار سره د نيکۍ وخت ختم سو، بلکي له مرګ وروسته هم بايد مسلمان د مور او پلارسره نيکي وکړي. حديث شريف کي راغلي دي: ((قال رسول الله ﷺ ان الرجل لترفع درجته في الجنة، فيقول يارب أني لي هذا؟ فيقال باستغفار ولدك لك)) (سنن ابن ماجه، ج ۲ ص ۱۲۰۷).

ژباړه: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: د سړي درجه په جنت کي لوړيږي، نو دی وايي ای ربه دا د کوم لوري، نو ده ته وويل سي چي دا ستا د اولاد د استغفار او بخښني په سبب، چي د الله جل جلاله څخه يې ستا لپار غوښتي ده، نو دمسلمانانو لپاره په کار ده چي د خپل وفات سوو والدينو لپاره په هر وخت کي د الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړي.

**د مور او پلار زيارت کول نيکي ده**

د هغه نيکيو له ډلې چي د انسان د ګناهونو د ختمولو سبب جوړيږي هغه د مور او پلار له وفات څخه وروسته د هغوی زيارت کول دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((من زار قبر أبويه أو أحدهما في كل جمعة غفر له و كتب برا)) (المعجم الأوسط للطبراني، ج ٦ ص ١٧٦).

ژباړه: کوم چا چي د خپل مور او پلار زيارت وکړ يا يې د يوه زيارت وکړ په هره جمعه کي، هغه ته به بخښنه وسي، او نيکي کوونکی به وليکل سي.

**د مور او پلار د دوستانو سره صله رحمي کول د نيکۍ څخه دي**

د کوم مسلمان مور او پلار چي وفات سي نو د هغه لپاره په کار ده، چي د مور او پلار د خپلوانو او دوستانو سره ښې اړيکي وساتي، دا هم له مور او پلار سره په نيکۍ کولو کي شميرل کيږي، د حضرت ابو برده رضي الله عنه څخه روايت دی، دی فرمايي: زه مدينې منورې ته راغلم، نو ماته عبد الله ابن عمر حاضر سو، بيايې وويل: ايا ته خبر يې چي زه د څه لپاره درته راغلم؟ ما ورته وويل: نه، نو ده راته وويل: ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: که څوک

خوښوي چي د خپل پلار سره په قبر کي صله رحمي وکړي، نو د پلار د وروڼو سره دي صله رحمي کوي. له پلار څخه وروسته، نو زما د پلار عمر او ستا د پلار تر منځ ورورولي او محبت وو، نو ما ښه وګڼل، چي دغه سره ونښلوم. (صحیح ابن حبان، ج ۲ ص ۱۷۵).

**مور او پلار ته د رحمت په نظر کتل عبادت دی**

مور او پلار د مسلمان لپاره د جنت د داخلېدلو سبب دی، یو د هغو عباداتو څخه چي کول یې ډېر آسانه دي او الله جل جلاله د سترو عباداتو په اندازه ثواب باندي ورکوي د مور او پلار مخ ته د رحمت په نظر کتل دي، لکه څنګه چي یو مسلمان کعبې ته د عبادت په نظر ګوري الله جل جلاله ثواب ورکوي، همداسي د مور او پلار مثال دی. په حدیث شریف کي راغلي دي:

((قال رسول الله ﷺ ما من رجل ینظر الي والدیه نظر رحمة الا کتب الله بها حجة مقبولة مبرورة، قیل یا رسول الله و ان نظر الیه في الیوم مأة ألف مرة قال و ان نظر)) (التدوین في اخبار قزوین، ج ۳ ص ۴۲۴).

ژباړه: رسول الله ﷺ فرمایلي دي: داسي سړی نسته چي خپلو والدینو ته د رحمت په نظر وګوري مګر الله جل جلاله د دغه نظر په وجه ده ته قبول سوی حج لیکي، وویل سوه: ای د الله رسوله ﷺ که څه هم و ده ته په ورځ کي سل زره واره وګوري؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: که څه هم سل زره واره ورته وګوري.

**مور او پلار ته د دعاء پرېښودل او نه کول د فقر سبب ګرزي**

د رزق د بې برکتی اسباب ډېر دي، یو سبب د هغه اسبابو څخه دادی، چي سړی خپل مور او پلار د دعاء څخه هیر کړي نو په رزق کي یې بې برکتي راځي او د فقر سبب ګرځي. رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

((اذا ترک العبد الدعاء للوالدین انقطع عنه الرزق)) (بر الوالدین، لاحمد عیسي عاشور، ص ۲۸).

ژباړه: کله چي بنده مور او پلار ته دعاء کول پرېږدي رزق یې بند سي.

**د مور او پلار دعاء مقبوله ده**

ځیني داسي انسانان سته، چي الله جل جلاله د هغوی دعاء نه ردوي، بلکي قبلوي یې، یو د هغو انسانانو څخه مور او پلار دي. مور او پلار چي انسان ته دعاء وکړي او یا ښیرا ورته وکړي (نعوذ بالله منها) نو الله جل جلاله یې دعاء قبلوي، د والدینو په دعاء سره انسان لویې درجې ترلاسه کولای سي،

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي:

((ثلاث دعوات مستجابات لهن لاشك فيهن: دعوة المظلوم، و دعوة المسافر، و دعوة الوالدين علي الولد)) ( الادب المفرد للبخاري، ص ۲۰).
ژباړه: له شک پرته د درې ډوله کسانو دعا مقبوله ده، د مظلوم دعاء، د مسافر دعاء او خپل اولاد ته د مور او پلار دعاء.

**دوهــــم لامل**

دویم ستر لامل د اولاد له لوري د مور او پلار د ازارولو دا دی: هغه کسان چي خپل مور او پلار ازاروي د دې څخه نا خبره دي، چي په دغه عمل سره الله متعال جل جلاله ناراضه او په غضب کیږي، د دې ناوړه عمل د عواقبو او آخروي انجام څخه ناخبره دي، له دې څخه ناخبره دي، چي دا عمل د الله جل جلاله په نزد یو ستر جرم دی، هغه وعیدونه چي الله جل جلاله او رسول الله ﷺ د دغه مجرم لپاره په خپل کلام کي ذکر کړې دي داسي مجرمین د هغو څخه غافله دي، هغه وعیدات چي د دې ستر جرم په اړه راغلي دي په لاندي ډول دي.

**د مور او پلار عاقول (ازارول) ستره گناه ده**

گناهونه پر دوه قسمه دي: یو قسم صغیره(کوچني) گناهونه او بل هغه یې کبیره (لوی) گناهونه دي. صغیره گناهونه هغه گناهونه دي چي د نیکو اعمالو په کولو سره بخښل کیږي او کبیره گناهونه هغه گناهونه دي چي له توبې پرته نه بخښل کیږي، د مور او پلار ازارول له کبیره گناهونو څخه یوه گناه ده، هغه څوک چي مور او پلار ازاروي الله جل جلاله ته مبغوض انسان دی، له رسول الله ﷺ څخه صحابه کرامو پوښتنه وکړه: اې د الله جل جلاله رسوله! غټ گناهونه کوم دي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله جل جلاله سره شریک نیول، د مور او پلار ازارول(مسند البزار، ج ۹ ص ۹۸).
هغه خط چي رسول الله ﷺ و اهل الیمن ته استولی و په هغه کي یې داسي لیکلې وو: بیشکه چي د غټو گناهونو څخه د الله په نزد د قیامت په ورځ دادي، د الله جل جلاله سره شریک نیول، بې له حقه د یو مؤمن انسان وژل، د في سبیل الله جنگ په ورځ تېښته کول، د مور او پلار ازارول، پاکي ښځي په زنا باندي متهم کول، د جادو زده کړه، دسود خوړل، د یتیم مال خوړل (صحیح ابن حبان، ج ۱۴ ص ۵۰۴).

**څوک چي مور او پلار ازاروي هغه ملعون دی (د الله د رحمته بې برخي دی)**

یو حدیث شریف کي راغلې دي: رسول الله ﷺ د الله جل جلاله څخه بیان کوي چي الله جلا جلاله فرمایلې دي: پر هغه چا د خدای لعنت دی، چي د لوط قوم عمل کوي(یعني د ښځو پر ځای له نرینه و سره جنسي تعلقات ساتي) پر هغه چا د خدای لعنت دی، چي د لوط قوم عمل کوي، پر هغه چا د خدای لعنت دی چي د لوط قوم عمل کوي، د خدای لعنت دی، پر هغه

چا چي له  الله جل جلاله د بل چا په نوم ذبحه کوي او د خدای لعنت دی پر هغه چا چي خپل مور او پلار ازاروي (المعجم الاوسط للطبراني، ج ۸ ص ۲۳۴).

**عاق(ازاري) انسان جنت ته نسي داخليدلای**

ځيني ګناهونه داسي دي، چي انسان د جنت د دخول څخه محرومه کوې، البته که یو څوک مؤمن وي او هغه داسي ګناهونه وکړي، چي له جنت څخه وربانديي محرومه کيږي د دې مطلب دا دی، چي په دخول اولي سره به محرومه کيږي، يعني يو وار به د دوزخ په عذاب سر ه د ده ګناهونه پاکيږي او بيا به جنت ته داخليږي، دهغه ګناهونه څخه چي انسان د جنت څخه محرومه کوي يو هم د مور او پلار ازارول دي، دمور او پلار د حقوقو بايد سخته ساتنه وسي، داسي نه چي د هغوی د حقوقو پايماله کول زموږ د دوزخ د دخول سبب وګرزي(العياذ بالله). رسول الله ﷺ فرمايلي دي

((ثلاثة حرم الله تبارك و تعالي عليهم الجنة، مدمن الخمر، والعاق، والديوث الذي يقر الخبث في أهله)) (مسند احمد، ج ۱۰ ص ۲۷۰).

ژباړه: دري نفره داسي دي، چي الله جل جلاله جنت پر حرام کړی دی، هغه کس چي هميشه شراب څښي، ازاري انسان، ديوث (هغه کس چي په خپل کورنی کي د بد کاری اجازه ورکوي).

**د عاق انسان نيک اعمال نه قبليږي تر څو چي توبه ونه کاږي**

تر ټولو بدو اعمالو ډير بد عمل هغه دی چي د هغه د کولو په سبب د انسان نيک اعمال نه قبليږي، د مور او پلار عاقول(ازارول) داسي عمل دی، چي په کولو يې انسان داسي درجې ته رسيږي چي الله جل جلاله بيا د انسان نيک اعمال نه قبلوي الله جل جلاله دي موږ د داسي حالته څخه وساتي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

((ثلاثة لا ينفع معهن عمل: الشرك بالله، و عقوق الوالدين، والفرار من الزحف)) ( المعجم الكبير للطبراني، ج ۲ ص ۹۵).

ژباړه: دري ګناوې داسي دي، چي نيک عمل ګټه نه ورسره کوي، له الله(ج) سره شريک نيول، د مور او پلار ازارول، د جنګ في سبيل الله څخه تيښته.

**دريم لامل**

درېيم ستر لامل د اولاد له لوري د مور او پلار د ازارولو په اوسنۍ زمانه کي د هغو سريالونو او فلمونو کتل دي، چي د اسلامي تعليماتو سره په ټکر کي وي (دروس للشيخ صالح المغامسي، ج ۲۴ ص ٦). ډير ځله ماشومان په فلمونو کي ويني، چي يو کس د خپل مور او پلار سره په داسي لهجه ږغيږي چي د هغه په وجه مور او پلار ته غم رسيږي؛ خو بيا هم مور او پلار د رحم

په وجه هغه ته څه نه وايې، نو د دغه ماشوم په زړه کې دا یو طبعي خبره وګرل سي چې پر مور او پلار اواز پورته کوي او هغوی په خپلو خبرو دې ته اړ کوي چې د دوی په مقابل کې غلي پاته سي، څکه ده په سريال يا فلم کې دا صحنه ليدلې وي او دغه تربيه يې څني اخيستي وي، په راتلونکي کې دغه ماشوم بيا د خپل مور او پلار سره هم پر هغه ترتيب ژوند کوي او د ده دغه ناوړه تربيه د مور او پلار د ازار سبب ګرزي، اوسنۍ زمانه کې ناوړه فلمونه کتل د مسلمانانو د بچيانو لپاره زهر قاتل دي، بايد د وس مطابق پرهيز څني وسي.

**څلورم لامل**

د مور او پلار د ازارولو څلورم لامل بد ملګري دي، له بد ملګري څخه انسان بده تربيه اخلي، يو انسان چې په کومه تربيه سمبال وو خپل ملګري ته هم هغه تربيه ورکوي، رسول الله ﷺ فرمايلې دي: ((المرء علي دين خليله)) (مسند ابې داود الطيالسي، ج ۴ ص ۳۰۰).

ژباړه: سړی د خپل ملګري او دوست پر دين وي.

**پنځم لامل**

ډېر داسي ځوانان وي، چې شخصيت يې کمزوری وي، نو دی غواړي چې خپلو ملګرو او همزولو ته خپل شخصيت لوړ او قوي وښيې، نو د هغوی په مخکې د خپل مور او پلار نافرماني کوي، د داسي کارونو جرئت کوي چې د هغو په کولو سره مور او پلار ازاريږي، خپلو ملګرو ته دا ښيې چې زه ډير تکړه يم او پر ما باندي هيڅوک هم تسلط نه لري، نو د مور او پلار بې اجازي ځي او راځي پر مور او پلار آواز پورته کوي، د مور او پلار مال د خپلو ملګرو په مخکې د والدينو بې اجازي اخلي او مصرفوي يې، دا کړني د دې لپاره کوي چې خپل شخصيت لوړ وښيې. الله جل جلاله د داسي ګمراه کوونکو ملګرو په اړه فرمايې:

((وَاِن تُطِع اَكثَرَ مَن فِى الاَرضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللّٰهِ )) (الانعام، ۱۱۶).

ژباړه: او که چيرې ته د ډېرو هغو کسانو پيروي وکړې، چې په ځمکه کې دي، نو هغوی به تا د الله جل جلاله له لاري څخه واړوي.

**شپږم لامل**

د مور و پلار د ځورولو شپږم لامل د والدينو له خوا د خپلو اولادونو ناسالمه روزنه(سوء التربية)ده. هر انسان چې پيدا کيږي الله جل جلاله يې پر اسلامي فطرت پيدا کوي، کله چې ماشوم غټيږي د هغو کسانو څخه تربيه اخلي، چې ده ورسره هستوګنه وي، نو که مور او پلار نيک انسانان وي اولاد يې د نيکۍ تربيه ورڅخه اخلي، او که مور او پلار په بدو کارونو بوخت وي، نو اولاد هم

بده تربيه ځنې اخلي، لوی تأثير چې د ماشوم په ژوند کې راولي هغه د مور او پلار ژوند دی، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي

((ما من مولود إلا يولد علي الفطرة، فأبواه يهودانه، أو ينصرانه، أو يمجسانه)) (صحيح البخاري، ج ۲ ص ۹۵).

ژباړه: هيڅ يو ماشوم نه زيږي مګر پر فطرتي اسلام زيږي، مور او پلار يې يا يهودي کوي، يا يې نصراني کوي، يا يې مجوسي کوي.

ځيني والدين د شپې زياته برخه ويښ وي، په لهو لعب بوخت وي، اولادونه يې هم په دغه کارونو اخته کړي وي، او ياهم د خپلو اولادونو څخه ناخبره وي، چې هغه په څه کار اخته دي، او په سبا کې والدين د ورځې زياته برخه ويده وي بياهم د خپلو اولادونو د انجام څخه غافله وي، اولادونه يې د بدو ملګرو سره ځي په کوڅو کې مسلمانان ځنې په تکليف وي، آخر نتيجه يې دا سي سي، چې يا په نشه يې موادو اخته سي او يا هم غله ځنې جوړ سي چې بيا ټول عمر هم دغه مور او پلار د دوی له کړنو څخه په تکليف وي.

**اوم لامل**

که څوک غواړي چې اولاد يې ورسره ښه ژوند وکړي او د خپل اولاد له لوري ازار نه سي، نو د خپل مور او پلار سره دي ښه ژوند وکړي او هغوی ته دي تکليف نه ورکوي، که يو څوک د خپل مور او پلار سره سم ژوند ونه کړي او هغوی ازار کړي الله جل جلاله به په دنيا کې د هغوی د ازار غچ له دې کس څخه اخلي، او دی به په داسي اولادونو سره امتحان کړي چې دی هم ازار کړي، دا قاعده ده چې د عمل بدله د هغه په مثل ورکول کيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:

((کل الذنوب يؤخر الله منها ماشاء إلي يوم القيامة إلا عقوق الوالدين فإن الله يعجله لصاحبه في الحياة قبل الممات)) (المستدرک علي الصحيحين، ج ۴ ص ۱۷۲).

ژباړه: که د الله جل جلاله خوښه سي د مور او پلار د ازار نه پرته د نورو ټولو ګناهونو سزا تر قيامته ځنډوي، بيشکه چې الله جل جلاله ددغه ګناه کوونکي ته په ژوند کې سزا ورکوي.

**اتم لامل**

د مور او پلار د ازارولو اتم لامل دا دی، چې ځيني ملکو کې زيات کسان د زيات راحت خوښوونکي وي، نو کله چې يې مور او پلار لوړ عمر ته ورسيږي بيا دوی د خپل مور او پلار خدمت نه کوي، د دوی خدمت پر ځان يو بار بولي نو بيا هغوی خپل والدين د زړو انسانانو مرکز ته وړي او بيا ځان ځني بيغمه کوي سره له دې چې مسلمان بايد د زړښت او د خپل مور او پلار د

کمزورۍ حالت کې د هغوی خدمت وکړي، هغوی خوشاله وساتي، د مور او پلار خدمت کول په اسلام کې یو مطلوب امر دی، رسول الله ﷺ فرمایلي دي
((بر والدیک و لاترفع عندهما صوتک، و ان أمراك أن تخرج من دنیاك فاخرج لهما)) (جامع معمر ابن راشد، ج ۱۱ ص ۱۳۲).
ژباړه: د خپل مور او پلار سره نیکي کوه، اواز مه ورسره پورته کوه، که چیرې امر درته وکړي چې د خپلې دنیا څخه ووځه هم د دوی لپاره ترینه ووځه!

**نهم لامل**

له شرعي عذر پرته د خپلو اولادونو په منځ کې توپیري چلند کول، ځینې تر نورو نازول او په مالي لحاظ هغوی ته زیات اهمیت ورکول، د مور او پلار د ازار د سترو لاملونو څخه یو لامل دی، کله چې مور او پلار د خپلو اولادونو تر منځ توپیري چلند وکړي نو د اولاودونو تر منځ په لوړه کچه اختلافات بدبیني او حسد پیداکیږي، نو دغه مشکلات بیا د مور او پلار د ازار سبب هم کیږي، مور او پلار ته په کار دي چې په خپل ژوند کې د اولاد تر منځ عدل او برابري مراعت کړي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي:
((فاتقوا الله واعدلوا بین أولادکم)) (مشکاة المصابیح، ج ۲ ص ۹۱۰).
ژباړه: د الله جل جلاله څخه وبیریږئ، او د خپلو اولادونو په منځ کې برابري کوئ.

**لسم لامل**

د مور او پلار د ازارولو لسم ستر لامل د ادی، چې ځینې وختونه مور او پلار خپل په منځ کې مشکلات لري یو د بل څخه بد وړي، او ځینې وختونه یې تر منځ طلاق او جدایې راسي نو بیا مور خپل اولادونه پلار ته حواله کوي، چې د خپل پلار گستاخي وکړي او ازار یې کړي او ځینې وختونه پلار خپل اولاد د هغوی مور ته حواله کوي، چې د هغې بې عزتي وکړي او تکلیف ورکړي، د دغه کړنو څخه اولاد متأثره کیږي او د مور او پلار د ازارولو هڅه کوي، د دغه کړنو په سبب اولاد بده تربیه اخلي، باید والدین له داسي کړنو څخه ځان وساتي.

**د مور او پلار د حقوقو په اړه ځینې مسائل**

**۱. مسأله.** د محتاجه مور او پلار نفقه پر اولاد واجب ده، لهذا مور او پلار کولای سي، چې د ضرورت په وخت کې د اولاد له اجازې پرته د کفایت په اندازه مال واخلې، حدیث شریف کې راغلې دي(أنت ومالك لأبیك) یعني ته او ستا مال ستا دپلار یاست، لیکن د ضرورت څخه په اضافه مال اخیستلو کې مور او پلار حق نه لري، د حدیث شریف مطلب دا نه دی چې مطلق ټول

مال د اولاد د مور او پلار دی بلکې مطلب دادی چې والدين د ضرورت په اندازه د مال اخيستلو مالکان دي (حاشية السندي علي سنن ابن ماجه، ج ۲ ص ۴۴).

**۲ـ مسأله.** نيکه د احترام په مسأله کې د پلار پر ځای دی، لکه څنگه چې د مور او پلار سره بايد نيک چلند وسي همداسې بايد دنيکه سره نيک چلند وسي (احكام القرآن للجصاص، ج ۲ ص ۱۱۲).

**۳ـ مسأله.** د مور او پلار اطاعت او فر مانبرداري تر هغو واجب ده تر څو چې په يو گناه امر ونه کړي، که يې په گناه امر وکړ بيايې اطاعت کول جواز نه لري، حديث شريف کې راغلي دي: ((لاطاعة لمخلوق في معصية الخالق)) يعني که د مخلوق په اطاعت کې د خالق نافرماني راتله، نو دلته د مخلوق اطاعت نسته او بايد ونسي (احكام القرآن للجصاص، ج ۳ ص ۱۵٦).

**۴ـ مسأله.** د کفايې جهاد په صورت کې د مور او پلار بې اجازې جهاد ته تلل جواز نه لري (جواهر الفقه، ج ٦ ص ۴۱).

**۵ـ مسأله.** که د کفايې جهاد په صورت کې هيڅوک هم جهاد ته ونه وتی، نو بيا د والدينو له اجازې پرته جهاد ته تگ جائز دی (احكام القرآن للجصاص، ج ۳ ص ۱۵٦).

**٦ـ مسأله.** د فرض عين جهاد په صورت کې د مور او پلار له اجازې پرته جهاد ته تلل جائز دي (جواهر الفقه، ج ٦ ص ۴۱).

**۷ـ مسأله.** تجارت او سوداگری ته د مور او پلار بې اجازې تلل جواز لري (احكام القرآن للجصاص، ج ۳ ص ۱۵٦).

**۸ـ مسأله.** که مور او پلار کافران وي او مړه سي، نو بايد مسلمان اولاد يې غسل ورکړي او ښخ يې کړي ځکه دا د هغه نيکۍ څخه دي چې الله جل جلاله د مور او پلار په باره کې موږ په امر کړې يو (احكام القرآن للجصاص، ج ۳ ص ۱۵٦).

**۹ـ مسأله.** مور او پلار ته (أف) ويل هم ندي جائز، د أف ويلو دا مطلب دی چې هره هغه خبره يا کار چې د مور او پلار د ناخوښۍ سبب گرزي بايد ونه ويل سي (قاموس الفقه، ج ۲ ص ۳۹۲).

**۱۰ـ مسأله.** فرض حج ته د مور او پلار بيله اجازې تلل جواز لري، اجازه اخيستل شرط ندي (آپ کی مسائل، ج ۸ ص ۲۵). البته نفلي عبادت که د مور او پلار د خدمت د پاته کيدلو سبب گرزيدی بيا د مور او پلار له اجازې پرته کول يې جائز ندي.

**۱۱ـ مسأله.** که د مور او پلار تر منځ اختلافات وي اولاد بايد دغه اختلافاتو ته توجه ونکړي او د هر يوه تر خپل طاقته پوري خدمت وکړي، او که چيري يو د دوی څخه د هغه بل په خدمت ناراضه کيدی نو د دوی ناراضتيا معتبره نده ه بايد د دواړو خدمت وکړل سي (آپ کی مسائل، ج ۷ ص ۱۹۲).

**۱۲ـ مسأله.** که پر اولاد حج فرض وي نو کولای سي چي د والدینو څخه مخکي حج ته ولاړسي، خو که يې خپله حج کړی وي نو د حسن سلوك د ا تقاضا ده چي والدين حج ته واستوي (کتاب الفتاوی، ج ۴ ص ۹۹).

**۱۳ـ مسأله.** د مور او پلار او استاذ د عاق (ازاري) په امامت کي لمونځ کول مکروه دي، ځکه چي عاق انسان فاسق بلل کيږي او د فاسق امامت مکروه دی (مسائل رفعت قاسمي، ج ۲ ص ۵۹).

**۱۴ـ مسأله.** که مور او پلار دواړو په يوه مباح کار امر کوی خو د دوی د امر په منځ کي اختلاف وو نو بايد دپلار خبره ومنل سي، ځکه چي مور خپله د بابا تر امر لاندي ده (امداد الفتاوی، جديد چاپ، ج ۱۰ ص ۴۵).

**۱۵ـ مسأله.** که مور او پلار خپل اولاد قصدا ووژني، مور او پلار نه باندي قصاصيږي، ځکه چي اولاد دمور او پلار په سبب د عدم څخه وجود ته راغلي دي، او که اولاد مور او پلار قصدا ووژني، نو اولاد باندي قصاصيږي (الدر المختار علي هامش رد المحتار، ج ٦ ص ۵۳۴).

## نتيجه

د څېړني موضوع وه (په اوسنۍ زمانه کي د مور او پلار د ازارولو لاملونه)، د څېړنې پايلې ښيې چي د مور او پلار د ازارولو عمده لاملونه په لاندي ډول دي

۱. په دې نه پوهيدل چي د مور او پلار سره نيکي کول ډير ثوابونه لري او الله جل جلاله د دې نيکۍ په سبب انسان لوړو مقامونو ته رسوي

۲. په دې نه پوهيدل چي د مور او پلار سره بد چلند کول بدي پايلې لري

۳. ماشومانوته هغه فلمونه او سريالونه ور ښودل چي د اسلامي تعليم سره په ټکر کي وي او ماشومان داسي درس ترينه اخلي چي د هغه په سبب بيا د والدينو ځورونه يو عادي کار ورته معلوم سي

۴. د بدو ملګرو ملګرتيا کول ناوړه پايلې لري او ځيني وختونه د والدينو د ازار سبب کيږي

۵. ځيني وختونه يو ځوك غواړي چي خپل شخصيت نورو ته لوړ ښکاره کي نو پر خپل مور او پلار اواز پورته کوي او خپل امر په مني چي دا هم د ازار د لاملونو څخه يو عمده لامل دی

٦. ځيني وختونه والدين خپل اولاد ته ناوړه تربيه ورکوي چي دا په خپله د ځان لپاره د ازار لامل پيداکول دي

۷. هغه والدين چي د خپلو والدينو سره يې نيك چلند نوي کړی د دوی اولاد هم د دوی سره ناوړه چلند کوي د خپلو والدينو سره بد چلند کول د ځان لپاره د ازارولو لامل پيداکول دي

۸. ځيني کسان ډير راحت خوښوي، نو د والدينو د زړښت په وخت کي د هغوی خدمت نه کوي

۹. د اولادونو ترمنځ توپيري چلند کول اولاد دې ته هڅوی چې والدين ازار کړي

۱۰. ځيني وختونه مور او پلار خپل تر منځ مشکلات لري نو هر يو اولادونه دې ته هڅوي چې هغه بل ازار کړي

## سپارښتني

هغه والدين چې غواړي د خپلو اولادونو سم چلند ووينې او د هغوی له لوري ونه ځوريږي نو لاندي سپارښتني دي عملي کړي

۱. مور او پلار دي تر ډيري اندازې هڅه وکړې چې اولاد يې د علم سره آشنا سي ديني علم ته خاصه توجه په کار ده.

۲. والدين بايد خپل اولادونه د هغه فلمونو او سريالنو د کتلو څخه منعه کړي چې اسلامي تعليماتو ته پابند نوي.

۳. والدين بايد د خپل اولاد د سالمي تربيې لپاره د خپل اولاد څارنه وکړي او د هغو اشخاصو د ملګرتيا څخه يې را وګرزوي چې ناوړه تربيه ترينه اخلې ځکه چې حديث شريف کي راغلي دي: انسان د خپل دوست او ملګري پر دين وي.

۴. هر څوک که غواړي چې اولاد يې ورسره نيک چلند وکړي نو د خپلو والدينو سره دي نيکي وکړي.

۵. د خپلو اولادونو ترمنځ بايد هيڅکله توپيري چلند ونه سي ځکه چې دا هم شرعا ناوړه کړنه ده او هم اولاد د والدينو ځورولو ته هڅوي.

## مناقشه

په پای کي غواړم د يوي لنډي مناقسي په وړاندې کولو سره څيړنه را ونغاړم، د څيړني لاسته راوړني په لاندي ډول دي

۱. د نصوصو او فقهي عباراتو په رڼا کي د هغو اساسي لاملونو پيژندل چې ډير وخت يې په سبب والدين ځوريږي.

۲. د هغه آلاتو څخه د ازار د لاملونو معلومول چې ډير وخت ماشومان ترينه استفاده کوي لکه تلويزيون او داسي نور...

۳. د هغو نيکو او بدو کړنو پيژندل چې د والدينو د خوښی او ځورولو سبب کيږي.

۴. دا معلومول چې د اولاد بده تربيه د مور او پلار له لوري خپل ځان ته د ځورولو د اسبابو برابرول دي.

۵. د هغو مسائلو سره بلدتيا چې د والدينو د ناخوښی لامل ګرزي.

د والدینو دا وظیفه ده چې خپل اولاد ته د هغه دین ښوونه وکړي چې الله جل جلاله د انسانانو لپاره خوښ کړی دی او په دین اسلام سره یادیږي، کوم کسان چې د دغه وظیفې څخه غافله وي او سرته یې ونه رسوي هغوی به همیشه د اولادونو له لوري ځوریږي او کړیږي، البته د دې وظیفې په سر ته رسولو کې ځینې وختونه والدین هم ملامت نوي، وجه یې یا د ښوونځیو نه شتون وي یا هم د والدینو سخت مسکنت او غربت وي چې د دې په وجه بیا ماشومان په کوچنیوالي کې د اسلامي تعلیماتو څخه محرومه کیږي او د یوي ګولۍ مړۍ پیداکولو کوشش کوي، زموږ په ټولنه کې دا دوه اساسي مشکلات ځای لري، که دا مشکلات حل سي تر ډیره حده به ماشومان په اسلامي زیور سمبال سي.

## منابع او مأخذونه


1. القرآن المجید.
2. ابن البیع، أبوعبدالله الحاکم محمد ابن عبدالله. الطبعة الأولي(۱۴۱۱) هـ ق. المستدرك علي الصحیحین. ناشر: دارالکتب العلمیة ـ بیروت.
3. ابن حنبل، ابو عبدالله احمد ابن محمد. الطبعة الأولی (۱۴۲۱) هـ ق. مسند أحمد ط الرسالة. ناشر: مؤسسة الرسالة.
4. ابن عابدین، محمد امین بن عمر بن عبد العزیز. الطبعة الثانیة (۱۴۱۲) هـ ق. رد المحتار. ناشر: دار الفکر ـ بیروت.
5. ابن ماجه، محمد ابن یزید. (ب چ). سنن ابن ماجه. ناشر: دار احیاء الکتب العربیة ـ فیصل عیسي البابي الحلبي.
6. ابوعیسی، محمد ابن عیسی بن سَورة الترمذي. سنة النشر (۱۹۹۸) م. سنن الترمذي ت بشار. ناشر: دار الغرب الاسلامي بیروت.
7. الأزدي، معمر ابن ابي عمرو راشد. الطبعة الثانیة (۱۴۰۳) هـ ق. جامع معمر ابن راشد. ناشر: المجلس العلمي بباکستان، و توزیع المکتب الاسلامي ببیروت.
8. البخاري، محمد ابن اسماعیل. الطبعة الأولي (۱۴۱۹) هـ ق. الأدب المفرد. ناشر: مکتبة المعارف للنشر والتوزیع ـ الریاض.
9. البخاري، محمد ابن اسماعیل. الطبعة الأولي (۱۴۲۲) هـ ق. صحیح البخاري، ناشر: دار طوق النجاة.

10. بدرالدین العیني، محمود بن أحمد بن موسي. (ب چ). عمدة القاري شرح صحیح البخاري. ناشر: دار احیاء التراث العربي ـ بیروت.
11. البزار، احمد بن عمرو بن عبد الخالق. الطبعة الأولي ۲۰۰۹ م. مسند البزار. ناشر: مکتبة العلوم والحکم ـ المدینة المنورة.
12. البستي، محمد ابن حبان. الطبعة الأولي (۱۴۰۸) هـ ق. صحیح ابن حبان ـ محققا، ناشر: مؤسسة الرسالة ـ بیروت.
13. التبریزي، محمد ابن عبدالله الخطیب العمري. الطبعة الثانية (۱۹۸۵) م. مشکاة المصابیح. ناشر: المکتب الاسلامي ـ بیروت.
14. التهانوي، حکیم الأمت أشرف علي. (ب چ). امداد الفتاوي جدید. ناشر: زکریا بک ډپو انډیا الهند.
15. الجصاص، أحمد ابن علي أبوبکر الرازي. الطبعة (۱۴۰۵) هـ ق. أحکام القرآن. ناشر: دار احیاء التراث العربي ـ بیروت.
16. الحصکفي، محمد علاؤ الدین. الطبعة الثانية (۱۴۱۲) هـ ق. الدر المختار علي هامش رد المحتار. ناشر: دار الفکر ـ بیروت.
17. رحماني، سیف الله خالد. تاریخ اشاعت (۲۰۰۷) م. قاموس الفقه. ناشر: زمزم پبلشرز کراچي.
18. رحماني، سیف الله خالد. تاریخ اشاعت (۲۰۰۸) م. کتاب الفتاوي. ناشر: زمزم پبلشرز ـ کراچي.
19. السمرقندي، ابو اللیث نصر بن محمد. (ب چ). بحر العلوم مشهور بتفسیر السمرقندي. ناشر: المکتبة الشاملة.
20. السندي، محمد ابن عبدالهادي التتوي. (ب چ). حاشیة السندي علي سنن ابن ماجه. ناشر: دارالجیل ـ بیروت.
21. الطبراني، سلیمان بن أیوب بن مطیر. (ب چ). المعجم الأوسط. ناشر: دار الحرمین ـ القاهرة.
22. الطبراني، سلیمان بن أیوب بن مطیر، الطبعة الثانية ۲۵ جزءا. المعجم الکبیر، ناشر: مکتبة ابن تیمیة ـ القاهرة.
23. الطیالسي، سلیمان بن داود بن الجارود. الطبعة الأولي (۱۴۱۹)هـ ق. مسند أبي داود الطیالسي. ناشر: دار هجر ـ مصر.

24. عاشور، احمد عيسي. (ب چ). بر الوالدين. ناشر: مكتبة القرآن للطبع والنشر والتوزيع ـ القاهرة.
25. عثماني، محمدشفيع. طبع جديد (۱۳۴۱)هـ ق. جواهر الفقه. ناشر: مكتبه دار العلوم كراچي.
26. قاسمي، محمد رفعت. اشاعت اول (۱۴۲۹) هـ ق. مسائل رفعت قاسمي. ناشر: وحيدي كتب خانه.
27. القزويني، عبد الكريم بن محمد بن عبد الكريم. الطبعة ۱۴۰۸ هـ ق. التدوين في أخبار قزوين. ناشر: دارالكتب العلمية.
28. لدهيانوى، محمد يوسف شهيد. (ب چ). آپ کے مسآئل اور ان کا حل. ناشر: مكتبه لدهيانوى.
29. مجموعة المؤلفين. الطبعة من (۱۴۰۴ ـ ۱۴۲۷) هـ ق ۴۵ جزءا. الموسوعة الفقهية الكويتية. ناشر: المكتبة الشاملة.
30. المغامسي، ابوهاشم صالح ابن عواد. (ب چ). دروس للشيخ صالح المغامسي. ناشر: المكتبة الشاملة.
31. النيسابوري، مسلم ابن الحجاج. (ب چ) صحيح مسلم. ناشر: دار احياء التراث العربي ـ بيروت.

# العوامل المؤدية إلى إيذاء الوالدين فى العصر الحالي

محمد الحنفي [١]
الفقه والقانون، كلية الشريعة، جامعة نيمروز للتعليم العالي
Mohmmadalhanafi97@gmail.com

## الملخص

يبين هذا البحث أسباب تحرش الأولاد بالوالدين، وفي هذا البحث تم بحث الأسباب التي تدفع الأولاد إلى مضايقة الوالدين بالتفصيل، الغرض من هذا البحث هو ابتغاء مرضاة الله تعالى وتقوية نظام الأسرة وعيش حياة سعيدة بين الأولاد والوالدين، نوع البحث ببليوغرافي، وإجراءاته تحليلية وتوضيحية، وأظهرت نتائج البحث أن الأسباب الرئيسية لعقوق الوالدين ما يأتي: الجهل بثواب بر الوالدين، والجهل بعواقب إيذاء الوالدين، ومشاهدة الأفلام والمسلسلات التي تتعارض مع تعاليم الإسلام، مخالطة أصدقاء السوء، إظهار الشخصية، سوء التربية، سوء معاملة الوالدين لوالديهم، طلب الراحة، عدم الإعتدال بين الأولاد، المشاكل بين الوالدين، وبعد قراءة البحث سيعرف القارئ الأسباب المذكورة بالتفصيل.

**الكلمات المفتاحية:** الوالدين، الألم، الأسباب، العقوق، الحكك

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**